مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۵/۰۸

# چوپ پاته کېدل گناه ده

اگر بینی که نابینا و چاه است

اگر خاموش بنشینی گناه است

که څه هم چي طالبانو د قدرت له اخیستلو څخه تر اوسه پوري هیڅ مثبت کار نه دی کړی بلکه هر گام یې د افغانستان د خلکو او ټولني د گټو پر ضد پورته کړی دی او افغانان، په تېره بیا پښتانه، یې په ټولي نړۍ کي وحشیان او د بشري آزادیو او ښځو دښمنان معرفي کړي دي؛ خو په دې وروستیو شپو ورځو کي یې پر ښځو باندي خپلو بې شرمانه اووحشیانه حملو ته دونه زور ورکړی دی چي په مقابل کي یې د هر افغان، په تېره بیا پښتنو، چوپ پاته کېدل ستره گناه ده. د پښتنو خبره ځکه کوم چي د طالبانو تام اکثریت پښتانه دي او بهرنیان د هغوی هر بد او وحشیانه عمل پښتنو ته راجع کوي.

څو ورځي مخکي مي په عام بازار کي د یوې پښتني خور بې عزته کېدل ولیدل او باور وکړی له هغې شېبې څخه مي خوب تښتېدلی دی او مځکه آرام نه راکوي. زه یقین لرم چي دا دردوونکي او له وحشته ډکه ویډیو به ټولو افغانانو لیدلي وي خو له بده مرغه چي ما یې د افغانانو په لیکنو کي تقریباً هیڅ انعکاس نه دی لیدلی.

په ویډیو کي گوروچي یو وحشی طالب، د افغانیت اوناموس د ټولو ارزښتونو په خلاف، پر یوې ښځي باندي، چي زموږ د ټولو افغانانو ناموس دی، حمله کوي. وهي یې اوپوري وهي یې. هغه بې دفاع معصوم موجود یوه ولاړ موټر ته تکیه کوي. یو ځوان یې دفاع ته وردانگي او په دغه وخت کي لا یوه بله وحشي ښځه، چي حتماً به د ابوجهل د لښکر د امربالمعروف غړې وه، پر هغې معصومي او بې دفاع ښځي باندي بله حمله کوي.

دوستانو! په عام محضر کي پر یوې معصومي افغاني باندي د وحشي طالب حمله د ټولو افغانانو پر ناموس باندي حمله ده. د افسوس ځای دا دی چي افغانان تر هر څه د ناموس په ساتلو افتخار کوي او دا متل د هر پښتانه زده دی چي وایی « دنیا تر سر جار سرترناموس» مگر د دې وروستی وحشیانه حملي په مقابل کي، چي ښایی له سل گونو دغه راز حملو څخه به یوه وه، چوپ پاته سول.

د دې معنا دا ده چي زموږ ټول تاریخ دروغ دی او خپل ځانونه مو هسي په افسانو غولولي دي. موږ هیڅ وخت نه له خاوري او نه له ناموس څخه دفاع کړې ده او یا:

یا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول

یا د خدای دی همداهسي شان فرمان ( خوشحال خان)

دا چي د طالبانو غایب مشر هبت الله اعلان کوي چي د هغه حکم د خدای او رسول حکم دی او باید چي په پټو سترگو ومنل سي، زما په عقیده هغه د دې خبري د کولو حق لري. حق خو ځکه لري چي تر اوسه پوري یې هر وحشیانه او د بشري تمدن مخالف عمل په پټو سترگو منل سوی او نه په بهر کي اوسېدونکو افغانانو او د هیواد په دننه کي چا د هغه په مقابل کي لږترلږه لفظی عکس العمل ښودلی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په عام بازار کي پر يوې معصومي ښځي باندي، چي د ټولو افغانانو خور وه، د ابوجهل د امربالمعروف د وحشيانو حمله د ټولو افغانانو پر ناموس باندي حمله وه. که د دې حملې په مقابل کي هم خاموش پاته سی؛ چي تر اوسه پوري خاموش پاته سوي یاست نو د طالبانو او د ابوجهل د لښکر د نورو وحشیانه حملو منتظر اوسی.

افغانانو! موږ او تاسي د طالبانو د لومړي ځل وحشت په وخت کي هم هیڅ ونه کړل او که امریکا او ناټو د هغوی وحشت ته خاتمه ورکړې نه وای تر اوسه پوري به د هغوی هغه پخوانی پاچهي روانه وای. دا ځل بیا د هغه ډول طلایی فرصت په انتظار مه کښېنی. بیا هغه دور نه راځي. هغه چرګه مړه سوه چي د سروزرو هګۍ به یې اچولې.

افغانستان د نولسمی پېړی راهیسي انګرېزانو، روسانو او امریکایانو هر یوه په خپل وار اشغال کړی دی. خو د هیڅ قدرت د اشغال په وخت کي زموږ خویندي او لوڼي چا په بازار کي سرتوري کړي نه وې مګر اوس د ابوجهل لښکرو د افغانانو د عزت او ناموس ټول سرحدونه مات کړل.

د افغانستان مظلوم او د پاکستان د شومو دسیسو ښکار اولسونه زموږ او ستاسي مرستي ته ضرورت لري. موږ له هغوی سره مرسته کولای سو. موږ له هغوی سره د مرستي کولو زمینه، وسایل او اشخاص لرو. د افغانستان په داخل کي زنداني اولسونه په لاسونو کي هیڅ نه لري. که هغوی په دې باوري سي چي په بهر کي د هغوی وطنوال د دوی په غم کي دي اوله دوی سره مرستي کولو ته تیار دي نو بیا هغوی هم د خپل نجات لپاره لاس او پښې وهي. چوپ پاته کېدل او هیڅ نه کول د خپلي پلرنۍ خاوري سره ظلم دی.

و ما علینا الاالبلاغ.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ